## د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون

**مطبوعاتي خبرتیا**
**کندهار ښار کې  دملکي کسانو وژل دبشریت پر ضد جنایت او د نړیوالو بشرپالو قوانینو څخه ښکاره سرغړونه ده**
**کابل :  د ۱۳۸۸کال د کب ۲۳ مه د ۲۰۱۰ کال د مارچ  ۴مه**

د کندهار په ښار کې پرون د کب ۲۲ او نن د کب ۲۳باندي یو په بل پسي ځان وژون‌کې او بمي بریدونه وشول چې د هغه په پایله کې ګڼ شمیر ملکي کسان مړه او ټپیان شول.

د افغانستان دبشری حقونو خپلواك کمیسون ددې خبرتیا په خپرولو سره د قربانیا نو د کورنیو سره خپله خواخوږي څرګنده وي او د ټپیانو زر تر زره روغتیا غواړي.

په دغه ۷ ځان وژونکو او بمي بریدونو کي چې د ښار په بیلابیلو برخو کې تر سره شوې او د هغه موخی هم ناپوځې سیمي وې د وروستي خبر له مخي ۳۷ ملکی کسان په شمول د ۴ ښځو او ۴ ماشومانو وژل شوي او د ۵۰ تنو شاوخوا کی ملکي کسان ټپیان شوي دي. برسیره پر دي چې دغه بریدونه د اسلام د مقدس دین د موازینو پر خلاف دي د نړیوالو قوانیو سره هم ښکاره تنا قض لري. ددې پیښي ډیر قربانیان هم ملکي کسان دي. دا په داسي حال کي ده چي د دولت وسله والو مخالفینو د دغو پیښو مسؤلیت پر غاړه اخیستي دي او دا ېی د یو ګواښ په تو ګه دولت او د دولت پلوو ځواکونو ته بللی.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون  کمیشنر محدفرید حمیدي په دې اړه وویل ”د ملکي خلکو په نښه کول په هر نوم چي وي قبولیدلاي نشي او دغه د اسلام سپیڅلي دین د ارشا داتو او د نړیوالو قوانینو سره تنا قض لري.“

د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون پر ملکي کسانو او د هغوی پر استوګنځیو باندي بریدونه په کله باندي غندي او هغه په هیڅ ډول باندي د توجیه وړ نه بولی. د دولت د وسله والو مخالفینو څخه په کلکه باندي غواوړي چي ملکي سیمي او استوګنځي تر برید لاندي ونه نیسي.

د بله پلوه له داخلي او نړیوالو امنیتي ځواکونه څخه غواړو چی په بیړنې توګه د کندهار ښار امنیت وساتي او د نورو ښارونو او زیانمنونکو سیمو د امنیت د پاره مناسب او اړین کارونه په عمل کي پلي کړي.

له هغه ځایه چي د کندهار ښار پر ملکي سیمو او استوګنځیو باندي ځان مرګي بریدونه دملی او نړیوالو بشرپالو قوانینو څخه سر غړونه ده. د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون په دې برخه کې کلکه اندیښنه لري او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړي چي ددې ویرونکي جنا یتونو (د بشر پر ضد جرمونه) عاملین زر تر زره ونیسي او هغوي محکمې ته ولیږي.

د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون
پل سرخ، دریمه کارته، کابل افغانستان
ټیلفون:  020 2500676
فکس:   020 2500677
ایمیل: aihrc@aihrc.org.af
سایت: www.aihrc.org.af